شریعت ورځپاڼه

SHARIAT DAILY

دافغانستان د اسلامی امارت مرکزی نشراتی ارګان

شپږم کال۵۸مه ګڼه پرله پسی (۴۳۷)چهارشنبه د۲۲ ۱۴هـ ق جمادی الاول (۱۸)
د۱۳۸۰ هـ ش کال اسد (۱۷) د۲۰۰۱ میلادی کال د اګست(۸)

عیسویت دین ته د را بللو باوری اسناد ژورنالستانو ته وښودل شول

په دی اسنادو کی په دری ژبه ویدیوئی کستونه ، په دری او پښتو ژبو د انجیل کتاب او نور مدارک شامل دی

له نیول شویو کارکوونکو څخه تحقیقات دوام لری

کابل :

د شلتر ناو انټرنشنل له موسسی څخه ترلاسه شوی سندونه اونبی نبانی چې افغانی دینداری کورنی بی د عیسویت منسوخ دین ته بللی پرون له غرمی وروسته د یو مطبوعاتی کنفرانس په ترځ کې ژورنالستانو ته وښودل شول.

د باختر اطلاعاتی اژانس خبر راکړ :

د امر بالمعروف او نهی عن المنکر وزارت اداری معین محترم مولوی محمد سلیم حقانی پرون د هغه مطبوعاتی کنفرانس په ترځ کې چې د باختر د اطلاعاتی اژانس د لوی ریاست په مقر کې جوړ شوی ؤ د دغی موسسی د انحرافی فعالیتونو او له هغی څخه د ترلاسه شویو سندونو په باب ژورنالستانو ته څرګندونی وکړی .

٤مخ

الهی فرمان

ترجمه : ای هغو کسانوچی ایمان یی راوړئ که بو فاسق څه خبر درته راوړی نو پلټنه کوئ هسی نه چی کوم قوم ته په ناپوهی سره څه تکلیف ورسوئ او بیا په خپلو کړو پښیمانه شئ (الحجرات - ٦)

د ریاست الوزراء د اقتصادی مرستیال په مشری

د افغانستان بانك عالی شورا غونډه وکړه

کابل :

د افغانستان بانک عالی شورا پرون له غرمی مخکی د ریاست الوزراء د اقتصادی مرستیال محترم مولوی عبدالکبیر په مشری د مرکزی بانک په مقر کي غونډه وکړه .

دباختراطلاعاتی اژانس خبرراکړ

٤مخ

له پلورل شویو اجیرانو نه
څلور تنه نن په دار ځړول کیږی

له دغو پلورل شویو اجیرانو ۹ تنه په عمری بند محکوم شول

مجرمینو د تحقیق په بهیر کی په خپلو ټولو جرمونو او جنایتونو اعتراف کړیدی

کابل :

د تیر کال په بهیر کي په کابل کي دیم اینبودنو دیارلس تنه عاملین په دی وروستیو وختو کي د امنیتی موظفینو له خوا ونیول شول او د دوی د نسبتی دوسیو د پراوونو له تیرولو وروسته ٤ تنه په اعدام او ۹ تنه په عمری بند محکوم شول .

د باختر اطلاعاتی اژانس

٤مخ

په پکتیکاکی دکولرا ناروغی له امله

۴۰ تنه هیوادوال په حق ورسیدل

پکتیکا :

زمـــوږ څلویښت تنه هیوادوال چی ماشومان او سپینږیری یکی دی په دی وروستیو وختوکی دپکتیکاولایت په اړوند وکلیو او دخیر کوټ ګوملی او وازه خوا په ولسوالی کی دکولرا ناروغی دخپریدو له امله په حق رسید لی دی .

دباختر اطلاعاتی اژانس

٤مخ

ملا سید شاه «حیدری »

دکابل ښار ۴۰۰ ځاګانی کلوریشن او دانتانی ناروغیو مخنیوی وشو

کابل – شریعت:

او به ژوند یو مو جودا توته ژوند ورببنی او نه بیوازی داچی څښل کیږی بلکی هغه څیزونه چی خوړل کیږی لکه : غنم ، جوار ، وریجی او میوی داهم ټول له اوبو پرته لاس ته نه شی راتلای . په همدی خاطر زموږ

٤مخ

کار اسفالت ریزی جاده های شهر هرات به شدت ادامه دارد

هرات – شریعت :

طوریکه به تمام جهانیان وبخصوص هموطنان رنجدیده کشور ما واضح وروشن است که درطی این چند سال اخیر خشکسالی و توام آن تحریمهای غیر عادلانه دشمنان وطن ومردم مادست

ص۲

عکس : نمایی ازعمارت شاروالی هرات عکاسی مهربان

هبیتات له ښاروالی سره مرسته کوی

کابل :

دهبیتات موسسی د کابل ښاروالی دګډو پلانونو له طرحی سره سم د ښاری ستونزو او مشکلاتو دلری کولو په لاره کی همکاری کوی .

دباختر اطلاعاتی آژانس خبر راکړ په هغی کتنه کی چی کابل ښاروال محترم مولوی حمدالله نعمانی پرون دهبیتات موسسی له تخنیکی سلاکار سره وکړه

۴ مخ

تیم فوتبال اتحاد بازهم برنده شد

کابل – شریعت:

به سلسله تورنمنت بهاری فوتبال میان تیم های ورزشی فوتبال کابل مسابقه جالب میان تیم اتحاد وتیم شعاع عصر دیروز دایر گردیده بود .

بازی میان بازیکنان هردو تیم باگرمی زیاد آغاز گردید ، هردوتیم میخواستند تا دروازه گول حریف را باز نمایند اما تایم اول بدون نتیجه خاتمه یافت در تایم دوم بازی کن شماره

ص ٤

د بغلان ولایت په کمپونو کی :

په بی ځایه شویو کورنیو باندی مرستی وویشل شوی

بغلان :

دالحرمین د خیریه موسسی د مرستی مواد د بغلان ولایت په کمپونو کي په دری زره میشتو کورنیو باندی وویشل شول .

دباختر د اطلاعاتی اژانس خبر له مخی دغه مواد چی دیرش زره کیلو ګرامه اوړه ، دیرش زره کیلوګرامه وریجی او دری زره کیلو دیلی غوړی یکی دی د دغه ولایت د مسئولینو په همکاری د بغلان ولایت

٤مخ

افغانان د خپل مقدس دین د ساتنی لپاره قربانی ورکوی

۲ مخ

خاتمی امروز حلف وفاداری یاد میکند

تهران :

پس ازآنکه بحران سیاسی در میان قوه قضائیه وپارلمان ایران به میانجیگری اکبر رفسنجانی رئیس تشخیص مصلحت نظام به پایان

ص٤

اطلاعیه ریاست عمومی بریښنا موسسه

درچوکات ریاست عمومی تصدی بریښنا موسسه کمیسیون چهل نفری به منظور کنترول وتصفیه حسابات برق ایجاد گردیده و در مناطق مختلف شهر فعالیت می نمایند که برای شناخت آنان کارت مخصوص دارند .

بناء ازتمام شهریان کابل تقاضا میگردد که با اعضای کمیسیون متذکره همکاری نمایند هرگاه کسی در زیر نام کمیسیون استفاده ناروا کند وخود را منسوب کمیسیون وانمود نماید

ص٤

خواست کوفی انان از اسرائیل

منابع خبری بین المللی :

کوفی انان از اسرائیل خواست که از برنامه تروریستی خود در سرزمینهای اشغالی خاتمه دهد.

کوفی انان گفت که برنامه اسرائیل با حقوق بین المللی منافات دارد که میتواند باعث وخامت هر چه بیشتر وشونت درمنطقه گردد .

قرار گزارشات از دیاد خشونت ها وادامه فعالیت های تروریستی اسرائیل دربرابر فلسطینی ها امریکا نقش فعالتری در شرقمیانه داشته است.

مردم ترکیه خواهان گرفتاری صدراعظم اسرائیل شدند

انقره :

درآستانه سفر اریل شارون صدراعظم اسرائیل به ترکیه موج مخالفت مردم آنکشور به سفر مذکور افزایش یافته است اتحادیه نویسنده گان ،و روزنامه نگاران ترکیه در بیانه با اشاره به سابقه تروریستی اریل شارون و جنایات

ص٤

عکس : کشتی طیاره بردارامریکایی در آب های سواحل اسرائیل

محکمه اندونیزیا در تلاش گرفتاری فرزند سوهارتو

جاکارتا :

یک محکمه دراندونیزیا از بزرگترین فرزند جنرال سوهارتو دیکتاتور سابق آنکشور خواسته است که خود را به مقامات قضائی آنکشور تسلیم کند .

این فرزند سوهارتو که اکنون در خفا بسر میبرد به دست داشتن در قتل یک قاضی

ص٤

خشونت ها در فلسطین وسعت پیداکرده است

توسط اشغالگران ۲۰ هزار فلسطینی از خانه ها شان بیرون کرده شده اند

بیروت :

به تعقیب حمله نظامیان رژیم اشغالگراسرائیل به یک کمپ مهاجرین فلسطینی در نزدیک شهرالخلیل واقع در ساحل غربی رود اردن و ربوده شدن چهار فلسطینی توسط نیروهای اسرائیل مبارزان فلسطینی در پاسخ به این

٤مخ

سرمقاله

دلوی او بښونکی خدای «ج» په نامه

د«خیر»دپردی تر شا

ورمه شپه ټولو هیوادوالو او ریدلی دی چی په کابل کی د «شلترناو »موسسی مرکزی دفتر بند او ٢٤ تنه هغه کسان چی عیسویت ته ددعوت په عملی حالت کی نیول شوی دی دامربالمعروف او نهی عن المنکروزارت دموظفینو له خوا توقیف شویدی .

دافغانستان اسلامی امارت داسلام او افغانی فرهنګ په چوکاټ کی دنړی ټولو غیردولتی موسساتو ته ددی حق ورکړی دی تر څو د پلان په وزارت کی له راجستر وروسته کاروکړی او په دغه راجستر کی چی کوم شروط داسلامی امارت او

۲ مخ

شریـعت

دتاسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د لیکوال هیئت ترنظر لاندې
مسؤول مدیر : الحاج ملا اسدالله «حنیفی »
مرستیال : غلام محمد فاروق
دبیږ ګڼې بیه : په هیواد کي (١٠٠٠) افغانی په پاکستان کی (٣) کلداری
تیـلـفـون : ٢١٣٨١ توزیع او شکایات :٦٢٨٥٩
پست بکس : (٤٧١) کابل افغانستان
جاري حساب : ٤٠٣٨٥/٧ د افغانستان بانك مرکز
چاپ : امارتي مطبعه

د سرمقالی پاتی برخه

بهرنیو غیردولتی موسسو ترمنځ وضعه کیږی ، داسلام او افغانی فرهنګ احترام یکی اساسی شرط ګڼل کیږی . نو ځکه خو داسلامی امارت امنیتی او اطلاعـاتی حلقی او اداری ددی حق لری ترڅو په قرار دادکی دمندرجو شرایطو او لو ظنامو دتطبیق څیړنه وکړی .

داسـلامی امارت دامر بالمعروف او نهی عن المنکر وزارت مرظفینوددغی موسسی دکاری سرغړونو او دقرداد دشرایطو تړپښو لاندی کولو په نتیجه کی له خپل قانونی حق څخه په استفادی ددغی موسسی کارکوونکی ونیول او مرکزی دفتر ئی ورښد کړیدی .

اسلامی امارت دخپل اسلامی اوبشری حسن نیت پرښا ، د ټولو بهرنیو غیردولتی موسسو کارته په جګرو ، وچکالیو او محا صرو ځپلی افغانستان کی دقدر په سترګه ګوری او دکار په ساحه کی ورسره دخپل توان امکانات شریکوی او همداشان دهغوی دکار په وړاندی موانع لری کوی خو داسی دی نه وی چی دموږ له دی حسن نیت څخه هغوی دخپلو غرضی هلو ځلو لپاره کار واخلی او زموږ په اسلامی ټولنه کی دعیسویت منسوخ دین ته دعوت ورکړی چی داسی حرکات ښیی هسی شان بهرنی موسسات د «خیر »تر پردولاندی خپل غرضی آرمانونه لټوی او اصلی هدف ئی دخیـرپر ځای زموږ مـومن ولس ته فکری او عقیدوی تشویش او تذبذب پیدا کول دی .

او دا په خپله یو نه بښونکی جرم دی چی مخه نیول ئی داسلامی امارت ، اسلامی ،ملی او قانونی وجیبه ده .

اسلامی امارت ټولو بهرنیو ادارو ته اطمینان ورکوی ، هغوی چی خپل انسانی خدمت‌ئی هدف دی اوپه دغی لاره کی کارکوی زموږ له خوا دښپړ امنیت او ملاتړ څخه برخمن دی او موږ به له خپلو امکاناتو څخه هیڅ ونه سپمو ، خو هغوی چی له لاری کاږه ځی ، مخالفت او مخنیوی او دهغوی دکار بندول زموږ قانونی حق دی .

شرقمیانه قیام قهرمانانه ومظالم جهان استکبار

شرقـمیـانه اکنون به داغـتـرین بستر حوادث خونین ناشی از نبرد قهرمانانه وقیام دلیرانه مردم بی گناه فلسطین و استبداد خونبار صهیونیزم جهانی مبدل گردیده است از سالهابدینسو مردم فلسطین برای دفاع از داعیه برحق ملی شان دست به قیام مسلحانه زده اند ، این قیام درنهـایـت طبیـعت خـود ، کرکتروخصوصیت دفاعی دارد نه تهرضی بیشتر از هزارتن فلسطینی تا کنون قربانی فشارهای نظامی « دولت » صهیونست شده وصدهامنزل مردم این دیارباکلی تخریب گردیده و یا شدیداً خساره مند شده است ولی بدون تردید میتوان گفت که این جنگ از جانب اسرائیل ابعاد بسیار وسیعی دارد و طرفداران وحامیان اسرائیل درصدد آن هستند که اسرائیل را به ژاندارم منطقه مبدل سازند واین امر جز اساسی ستراتیژی ایالات متحده امریکا درشرقمیانه است .

حملات راکتی اخیراسرائیل درنابلوس درکرانه غربی رود اردن یک بار دیگر آشکار ساخت که اسرائیل درصدد آن است که زمینه را برای تحقق پلان نهایی خود یعنی دادن خودمختاری محدود به فلسطینی ها و عمدتاً جلوگیری از تقسیم بیت المقدس میان فلسطینی ها واسرائیل درعمل اماده می سازد عمل تحریک آمیز اخیر گروهی از یهودیان افراطی که میخواستند درداخل مسجد شریف اقصی به اصطلاح خود شان « سنگ تهداب زیارتی » را بنانمایند مانند جرقه آتش ، قریب بود جنگ تمام عیاری را میان فلسطینی ها و اسرائیل براه اندازد .

گردهم آیی دمشق اگرچه در حقیقت زنگ خطری برای اسرائیل مبنی بر اتحاد اعراب علیه اسرائیل است ولی فکر نمیشود درصحنه عمل نتایج مورد توقع را ببار آورد ، زیرا تنش های سیاسی میان تعداد زیادی از کشورهای عربی به نحوی از انحااز عملکرد متحدانه کشورهای عربی علیه اسرائیل جلوگیری می کنند ماموریت میشل یکی از سناتوران امریکایی به شرقمیانه به مقصد آغاز « مذکرات صلح » میان فلسطینی ها واسرائیل تنها وتنها یک محصول داشت وآن عبارت از « آتش بس » شکنند ه است که هیچگاهی هم به مفهوم واقعی کلمه آتش بس ، عطی نگردید .

همانطوریکه تذکر یافت به شهادت رسانیدن هشت تن از شخصیت های برجسته ، گروه حماس و دو طفل فلسطینی آنقدرغم انگیز و تراژیک بود که امریکا هم نتوانست آنرا نادیده بگیرد و شخص رئیس جمهوری امریکا عمل اسرائیل را تحریک امیز واضافه روی خواند ولی نه بیشتراز این وپیغام سابقه یک بار دیگر تکرار شد یعنی هر دوجانب را به « صبر وتامل » وآغاز « مذاکرت صلح » دعوت نمود صلحی که همواره پروسه آن توسط اعمال ظالمانه اسرائیل نقب گذاری شده است درمرحله کنونی یک تحول عمده دیگر این است که روسیه هم به مثابه یکی از طرفین تلاشهای میانجی گرانه حملات اسرائیل را محکوم نمود درحالیکه دوستی میان دوکشورپایه های مستحکمی دارد ولی انگیزه این موضعگیری نسبتاً روشن رامیتوان حاکی از « مایوسی سیاسی » روسیه دانست زیرا فشار ایالات متحده امریکا این کشور را عملاً ازصحنه سیاست درشرقمیانه دورنگهداشته است همین اکنون وضع درشرقمیانه بسیار خشونت بار است و« راه صلح » هم به « دهلیز یکطرفه سیاسی » میماند که اخیرآن معلوم نیست ولی واقعیتها ومنافع اقتصادی امریکا و دیگر حامیان اسرائیل درغرب ، براین امرصحه میگذارد که تا ختم جنگ ورسیدن به صلح راه درازی درپیشرو است .

با آن هم کلید حل بحران شرقمیانه وحدت اعراب ودیگر ملل مسلمان جهان علیه توطئه صهیونیزم جهانی است آنچه که در این نزدیکی ها امکان زیاد آن وجـــود ندارد .

کار اسفالت ریزی جاده های . . .

بدست هم داده و وضعیت اقتصادی و معیشتی درکشور مارا مشکل کرده اند ولی باآنهم از آنجاییکه مردم بادیانت ومسلمان ما باعشق عمیق نسبت بوطن مینگرند وتلاش میورزند تا درراه آبادانی واعمار مجدد میهن ویران شده از جنگ ،خویش ازهیچگونه سعی و تلاش دریغ نورزند .که با درنظر داشت همین احساس شهروندان عزیز هرات درطی این همه مدت وبخصوص از زمان استقرار حاکمیت امارت اسلامی در کشور از هیچگونه همکاری با اداره ریاست شاروالی هرات دریغ نورزیده اند ریاست شاروالی هرات علاوه از تطبیق وانجام صدها پروژه عام المنفعه ارزشمند از قبیل پروژ ه های اعمار ساختمان فاضلاب بزرگ شهر هرات هموارکاری ، جغله اندازی ده ها کیلومتر از جاده های شهر ، اعمار وساختمان پخته واساسی صدها پایه پلها وپلچکها ، احیای مجدد پارکهای تفریحی ، اعمار وساختمان تشنابهای عصری و نیمه عصری ، اعمار وپوشش اضافه از هفتاد باب خندقها درساحات شهر غرس صدها هزار اصله نهال مثمر وغیر مثمر درطی چندسال اخیر ،اسفالت تمام پیاده روهای بازار ها ومنازل رهایشی ومکانات ادارات امارتی ، ساختمان درحدو د یکصدباب آ شغالدانی کلان وکوچک اعمار و ساختمان سد ها جهت جلو گیری از خسارات سیلاب ،حفر چاه های آب عمیق ونیمه عمیق و نصب واترپمپ ها وغیره را درتما م سطوح شهر هرات به پایه اکمال رسانیده ایم اواداره ریاست شاروالی هرات به خاطر رهایش وآسایش شهروندان خویش در هرزمینه سعی وتلاش نموده وبر علاوه پاکی و تنظیف ساحات وسیع شهردر قسمت تطبیق ماسترپلان عقب نشینی های ممکنه ولازم را در قسمت های عقب از شهر با تفاهم وموافقه مالکین ملکیت ها انجام داده واین پروسه با علاقمندی واحساس ایجاد زمینه های هرچه بیشتر فراهم سازی وضعیت تجارتی ، اقتصادی واجتماعی شهرجریان دارد .

درقسمت اسفالت اضافه از بیست کیلومتر جاده های شهرهرات از بودجه انکشافی ریاست شاروالی هرات وهمکاری مردم انجام پذیرفته وانشاالله امیدواریم تا دراینده نزدیک پروسه اسفالت جاده های شهر که مصرف مرحله کنونی آن به ملیارد ها افغانی میرسد انجام پذیرد واین روند باشدت ادامه دارد .

همچنان در راه تطبیق وکنترول از نرخ قیم بایشتکا رودلسوزی همه روزه ازطرف هیات ومسولین مربوط کاروفعالیت جدی جریان داشته و دارد درقسمت لایحه وتکس اماکن رهایشی وتجارتی از سالیان خیلی گذشته ودرخور ارزشهای پولی آنزمان تدوین وبمرحله اجرا گذاشته شده بود وبا درنظر داشت نرخ اسعار وارزشهای پولی کنونی اصلاً قابل مقایسه وجبران کننده حداقل از مصارفات کنونی نیز نبوده . وبهمین اساس اداره ریاست شاروالی هرات با در نظر گرفتن حقایق وواقعیت موجود اجتماعی واقتصادی شهر ودرمجموع کشور موضوع را بمقامات محترم با صلاحیت امارتی پیشنهاد و بعداز غور وبررسی عمیق وهمه جانبه لوایح ومقررات موضوعه درقسمت اخذ صفائی وتکس اماکن مواصلت ورزیده که واقعاً نهایت منصفانه وعادلانه بوده وروند تطبیق آن تحت نظرهیات درتمام ساحات شهر تطبیق میگردد .

گزارشگر: عطامحمد «فربادی »

افغانان د خپل مقدس دین د ساتنی لپاره قربانی ورکوی

تبصره

ټولو ته څرګنده او جوته ده چې افغانانو دخپل مقدس دین د ساتنی او دفاع په خاطر زیاتی قربانی ورکړیدی او په دی لاره کی یی دڅه د پاسه یونیم ملیون تنو شهیدانو ملیونونو تنو معیوبینو او معلولینو په وړاندی کولو او د زندانونو او مهاجرتونو په زغملو سره یې خپلی اتلوالی د هیواد او د اسلام د مقدس دین په ځلانده تاریخ کې ثبت کړیدی . او خپل مسئولیت یولی چې د اسلام د مبین دین د ساتنی په لاره کــې له هیڅ راز سرښندنی او ځان تیریدنی څخه د ډه و نه کړی . له بده مرغه ځینی فرصت غوښتونکی مرکزونه د هجرت په نړی کې د افغانانو له ناوړه حالت څخه په استفادی سره چې د شوروبانو د یرغل او تیری او دملحدو کمونستانو د ظلم او وحشت په نتیجه کی ورسره مخامخ شوی ؤ دخپلو افکارو په تبلیغولو او رو اجولو چې د افغانستان د مسلمانو خلکو او د اسلام د مبین دین دغوښتنو او لارښوونو پر خلاف ؤ لاس پوری کړیدی او د افغانانو د بی لاری کولو په خاطر یی هلی ځلی کړیدی .

یوی موسسی چې له افغانانو سره د مرستی تر پردی لاندی یی کار کړیدی د شلترناو انترنشنل موسسه ده چې له ١٦ کلونو را پدیخوا یی د افغانانو تر منځ د عیسویت د دین په تبلیغولو لاس پورې کړیدی او په دی ترتیب یی په هیواد کی د نافذو قوانینو او اصولو او زموږ د مسلمانو خلکو د عقیدی پرخلاف عمل کړیدی د باوری خبرځایونو او دهغو عینی شاهدانو د څرګندونو له مخی چې په هجرت کې یی د دغی موسسی فعالیتونه له نږدی کـتـلی دی د دغی موسسی د کار یوه سیمه د ناصرباغ کمپ دی چې په هغه کــې ددغی موسسی کارکوونکو مهاجر افغانان د عیسویت منسوخ دین ته را بلل چې په پای کې په دغه کمپ کی میشتو مؤمنو او احساس لرونکو خلکو د دغې موسسی په دفتر باندی برید وکړ او فعالیتونه یی بند کړل دغی موسسی د پیښور په اکوړی کمپ کې دهغو افغانانو له غړ ...او بی وزلی توب څخه په استفادی سره چې د ښلابیلو عواملو له امله په وروستیو کلونو کې دغه ځای ته مهاجر شویدی مسلکی کورسونه جوړ کړیدی چې په حقیقت کې یی د عیسویت د دین په تبلیغولو لاس پوری کاوه او په دغه ځای کی یی د شوربا خانی په نامه یو ځای جوړکړیدی او په هغی‌کی له پخی غوښی سره شوروا په خلکو باندی ویشل کیده چې وږی او مهاجر خلک دغه ځای ته تلل او له پخی شوروا څخه په استفادی سره یی د عیسویت د دین تبلیغ یی هم اوریده دغه راز دغی موسسی په دغه کمپ کی مهاجرو ښځو ته د ګلدوزی او خیاطی کوچنی دستګاوی برابری کړی وی چې اصلی هدف یی د عیسویت د دین تبلیغ ؤ چې د دغی موسسی دغه عملونه په همـاغه وخت کی د پاکستان په مطبوعاتو کی هم منعکس شوی ؤ چې زموږ د ادعا ثبوت دی چې په دغه ځای کی میشت افغانی مهاجرین هم وریاندی خبر دی دغی موسسی دغه راز په اکوړی کمپ کی د ډول ډول کتابونو او خپرونو په چاپولو او خپرولو لاس پوری کړیدی او عیسویت دین یې په علنی ډول یکی تبلیغاوه .

له افغانانو سره یی بهر ته د استولو او دمالی مرستی په نامه ژمنی کولی چې په پای کی دی کمپ کې د دغی موسسی فعالیتونه هم د مهاجرینو دمخالفت او تاوتریخوالی له امله دڅه مودی لپاره ځنډول شـوی ؤ چې په دی اړوند په پیښور کی د افغانستان اسلامی امارت نمایندګیو ته هم یو لړ شکایتونه رسیدلی دی . چې په هغو کې د دغی موسسی لخوا د عیسویت د کتابونو د ویشلو او دعیسوی رادیو اوریدو ته دخلکو د هڅونی یادونه شویده .

پرسیره پردی د شلتر ناو انترنشنل موسسی د افغانستان د اسلامی امارت د ... لخوا د ټولو صادرو شویو فرمانونو او دنافذو قوانینو ، اصولو او مقرراتو پرخلاف په دی وروستیو وختو کی د کابل په ښار کی هم په یولړ فعالیتونو لاس پوری کړی ؤ چې په دی اړوند د افغانستان د اسلامی امارت د امر بالمعروف او نهی عن المنکر وزارت لازم او باوری سندونه ښبی ښانی او مدارک ترلاسه کړیدی او د دغو فعالیتونو عاملین یی نیولی دی چې په دی باب تحقیق‌وام لری د افغانستان اسلامی امارت د دی حق لری چې ددغه شان ناروا عملونو تر سره کوونکی چې په سلو کی سل زموږ د عقیدی اصولو ، مقرراتو او ملی دودونو په خلاف دی ونیسی او نافذه قوانین ورباندی تطبیق او عملی کړی او له هغوی سره شرعی چال چلند او سلوک وکړی چې د زیاتی سرغړونی مخه و نیول شی او دنورو د عبرت سبب وګرځی .

اسلامی معارف

رهبری او شفقت

طـه

شفقت ، ترحم او د انسانی ټولنی خیر غوښتنه او د انسانی تکاملی پړاو خواته د پرګنو په جلبولو کې د ټولنی د مشرانو شفقت او زره سوی هغه څه دی چې د اسلام په عالیشان فرهنګ کې خپل خاص ځای لری او پر بشری ټولنه باندی همدا د اسلام او د رسول اکرم «ص» شفقت ؤ چې خلکو د سر په سترګو لیدل او همدا وجه وه چې په کمه موده کې د اسلام د چټک خوریدلو او په انسانی ټولنوکې دهغه د نفوذ سبب شو هر هغه څوک چې د ټولنی مشری ته ځان مخکی کوی یا دخلکو له خوا دغه کار ته ګمارل کیږی ، باید چې واقعاً هم په خپل ځان کې د رهبری اخلاق پیدا کړی ، پر ولسونو باندی له شفقت نه کار واخلی ، ځکه په اسلامی نظام کې د رهبری وظیفه یو مسئولیت دی چې رهبر یا لاربنو د دخلکو د فرد فرد په اړه مسئولیت لری او دغه مسئولیت هم دنیوی دی او هم اخروی .

انبیاء «ع» یا دینی رهبران په دغه ډګر کې د بشپړې رهبری انځورونه دی او ځکه خو په قرآن کریم کې د هغوی پیروی په کراتو کراتو توصیه شوی ده . هر مسلمان چې په بشریت باندی شفقت نه لری او تل د حاکمیت او انتقام اخیستنی خواته ځغلی ، نو پر دی خبره دې پوه شی چې د انبیاء «ع» په لاره روان نه دی .

د «احد» د غزا په ورځ چې کله مسلمانان د رسول اکرم «ص» په شمول د قریشو تر یوی سختی محاصری لاندی راغلل او په دغی محاصره او لاس په لاس نښته کې د رسول اکرم «ص» مبارک غاښ هم شهید شو او زیات شمیر صحابه رضی الله عنهم هم شهیدان شول او د رسول اکرم «ص» مبارک مخ داسی زخمونه وخوړل چې خپلې بی بی یې نه پیژانده خو په داسې سختو حالاتو کې هم رسول اکرم «ص» کفارو ته د شفقت له زاویې کتل ، ځکه که چیری هغوی خپل سلیم عقل په کار اچولی وای نو ورته معلومه به وه چې د اسلام دعوت د بشریت په مصلحت دی نه د ابوجهل او ابولهب کاړه دعوتونه همدا وجه وه چې رسول اکرم «ص» هغوی ته د هدایت دعا وکړه او ویی فرمایل : « اللهم اهد قومی فانهم لایعلمون » یعنی : یا الله زما دې قوم ته هدایت وکړه ځکه هغوی په نادانی کې داسی جنایتونه کوی او دحق او دوی ترمنځ همدا جهل دی چې لوی واټن یې پیداکړی دی .

دلته ګورو چې رسول اکرم «ص» په سختو انقلابی او اضطراری او همداشان د محاصری او سخت زخمی کیدلو په حالت کې هم پر بشریت څومره ځوا خوږی او شفقت درلوده او کله یې هم هغوی ته د بدی ورځې دعا ونه کړه : بلکی له خپل خدای څخه یې دهغوي هدایت وغوښت .

دلته دغه خبره ضروری ده چې رښتینی رهبر باید کله هم له خلکو سره د تجارت معامله ونه کړی یعنی کـه خلکو بد وکړه دوی هم ورسره بد وکړی بلکی باید رښتینی رهبرد دی توان ولری چې له مخالف جهت څخه په نرمی ، کار دانی ، او حکمت سره د مخالفو او دښمنو پرګنو د را ګرزولو ابتکار وکړی . ځکه جګړه ، وهل ، ټکول او نور تهدیدونه د خبرو او سلیم منطق ځای نه شی نیولی او لا خو د پرګنو ترمنځ درزونه زیاتوی .

همدا وجه ده چې د کفارو لوی لوی مشران د اسلامی نظام منلو ته داسی په عجیب شان ور تلل چې ټوله نړی یې حیرانه کړی وه او دغه شان کار او تلاش ته رسول الله «ص» ډیره زیاته توجـــــــه درلوده .

عکس : مسجد جامع که درساحه گالپ ایالت نیو مکسیکوی ایالات متحده امریکا از جمله هزارها مسجدی است که مسلمانان در آن عبادت میکنند .این مسجد از طرف جامعه، اسلامی امریکا ساخته شده و اینرا ثابت میکند که اسلام یگانه دینی است که به شکل سریع در ایالات متحده امریکا در حال گسترش است .

نکته های نغز

*بزرگترین خیانت ها اینست که به دوست خــود کــه ترا راستگو مي پندارد دروغ بگویي

* مشقت و سختي بهترین وسیله آزمایش وامتحان زندگانی است

*رضائیت وجدان فقط بعداز انجام وظیفه حاصل میشود

* هرکس در طلب خیر وسعادت دیگران باشد بالاخره سعادت خودش راهم بدست خواهد آورد .

*قدرت قلم متکي به حق وعدالت از هر اسلحه وشمشيري قويتر ،توانا تر و برنده تر است.

*افتخار درخشک کردن قطره اشک است نه در جاري ساختن سیل خون .

ترویج اسلام در امریکا

در شرایطی که اکثر مسلمانان جهان به قضایای متعددی دست وگریبان اند وضعیت مسلمانان در امریکا بطور قابل ملاحظه یی امیدوار کننده می باشد اوضاع و اصول به سرعت سرسام آوری به نفع مسلمانان تغییر کرده باگذشت زمان تعداد مسلمانان افزایش می یابد . احصائیه های بدست آمده نشان میدهد که تنها در میان روشنفکران تعداد مسلمانان به بیش از هفت ملیون نفر میرسد و انتظار میرود که تا دهه دوم قرن بیست ویکم اسلام بعد از مسیحیت بحیث دومین دین بزرگ در امریکا عرض اندام نماید . اولین دسته از مسلمانان در اوایل قرن هجده از فلسطین ، شام وکشورهای دیگر شرقمیانه وارد امریکا شدند که اکثر آنها به تجارت و تعلیم و تربیه آغاز کردند هم اکنون به صدها باب مدرسه اسلامی ، جماعت و گروه مسلمانان در امریکا در خدمت اسلام قرار دارد وز مینه برای احیای شعور سیاسی میان مسلمانان روز بروز مساعد شده و دامنه انکشاف اجتماعی گسترش میابد .

طبق یک احصائیه منتشر در مطبوعات امریکا بیش از پنجاه هزار زن از اتباع امریکایی بخاطر توجه و رهنمایی که اسلام به امور زنان دارد ، به اسلام گرویده و بامسلمانان ازدواج کرده اند . «امین»

دقرآن مجید په هکله

* مکی سورتونه :

هغه سورتونه دی چې په مکه کې نازل شوی دی او له عقیدوی مسایلو نه بحث کوی (د قرآن تیوریکه برخه)

* مدنی سورتونه :

هغه سورتونه دی چې په مدینه کې نازل شوی دی او له احکامو نه بحث کوی (عملی برخه) .

* مقطعات :

هغه حروف دی چې د ځینو سورتونو په سر کې راغلی وی لکه حم ، الم او ... او د ۲۹ سورتونو شروع په همدی مقطعاتو باندی شویده .

* په قرآن مجید کې :

د حضرت عیسی «ع» د مور بی بی مریمی «رح» نوم په صراحت ذکر شویدی * د حجرات سورة دوه نور نومونه هم لری :

۱-سورة الادب .

۲-سورة الاخلاق .

* سورة التوبه : دری نور نومونه هم لری

۱- ال کاشفه ، البراءة ،الفاضحه .

* سورة محمد ته :

سورة جهاد او سورة قتال هم ویل کیږی .

* په قرآن مجید کی :

(۷۹۰۰۰) کلمات دی .

* په قرآن مجید کې

(۳۲۳٦۷۰) حرفونه دی .

د توریالی «همت» - را ټــــولــــونــــه

صـدقه

نوشته – سلمی

شاید در ذهن تان خطور کند که این اصطلاح فقط در مالیات یا اقتصاد و امداد های مالی جایی دارد و هرکه از آن بهره گرفته نمی تواند فقیری را مدد ومساعدت ساختن راه های رفت و رو تعمیر پل ها ، ساختن مکتب و مدرسه و مسجد ، ساختن چاه آب جهت استفاده و خیر رسانی ، ساختن کلینیک صحی در یک منطقه محروم و مورد ضرورت این مواردی است که ایجاب می کند کسی که درین موارد خود را سهیم می سازد ، یک مقدار چیزی و امکانات پولی و مادی داشته باشد که بدون آن ممکن نخواهد بود ،ولی یاد آور باید شد که خداوند بزرگ چون عادل است ، به عدل خویش که شایسته ، خدائی اش است میدان صدقه را بر روی همه بنده های خویش باز نگهداشته است وهمه بنده های صادق خویش را جهت مسابقه در آن میدان وسیع فرا خوانده است رسول اکرم «ص» می فرماید : «هر نیکی صدقه است » بخاری «رح».

در روایتی از ابوذر رضی الله عنه نقل است : «تبسم کردن تو در روی برادرت صدقه است ، به کار خوب امر کردن و از کار بد مردم را برحذر داشتن و هشدار دادن صدقه است . ارشاد و رهنمائی تو به شخص ره گم شده ، صدقه است و شخص نابینا را ضعیف بینائی را رهنمائی کردن صدقه است دور کردن سنگ ، خار و استخوان از راه و ریختن آب از دول خودت به دول برادرت صدقه است » .

دقت کنید ساحه ، صدقه مخصوص مالیات نیست بلکه خود رسول اکرم «ص» که نخستین رهبر اسلام است این دایره را چقدر وسعت بخشیده است که هیچکس از آن بی بهره نمی ماند . پس در چنین حالت بر من و تو است که خود را بشناسیم ، موقف خود را در اجتماع درک کنیم و بدانیم که از عهده کدام کارها و کدام نیکی ها بر آمده میتوانیم و با درک این مطلب دیگر فرصت خود را از دست ندهیم و به عنوان یک فرد مسلمان در ساحه ، امکانات خویش در نیکو خیر رسانیم . چه صدقه محدود نیست و هرکس میتواند آنرا انجام دهد و اندرین میدان هر کس به اندازه امکانات مادی و معنوی خویش مسئولیت دارد ، و چون مسئولیت دارد ، می باید از اخلاص تعهد بسپارد تا صدقه را نه به آن معنی مخصوصش بلکه به مفهوم وسیع آن که تمام نیکی ها و کارهای خوب و مفید و مثمر را شامل میشود ، در بر بگیرد وبه این ترتیب ثابت بسازد که دین مبین اسلام دین خدمت است وفضیلت ، رحمت است وشفقت ، دستگیری از مظلوم است و جلوگیری از ظلم .

آبادی و عمران است و جلوگیری از تخریب و تعذیب . به رحم آمدن قلبها و جسدها است و از بین بردن کدورتها وعقده ها و ساختن اجتماع است بر اساس ایمان و مسابقه در کارهای خیر وصدقه را که در هر کجا به نام آن آشنائی داریم وخیلی از آن شنیدیم جز ، انجام کار های خوب و مفید به مردم چیزی نیست .

چنین گفته شیخ

وگفته اند که پدر شیخ ما (پدرابو سعید ابوالخیر)بابوابوالخیر سلطان محمود را عظیم دوست داشتي و اودر میهنه سرایی بکرد -واکنون معروف به سراي شیخ بر درو دیوار و سقفهاي آن بنام سلطان محمود وذکر حشم وخدم وپیلان ومراکب او نقش فرمود و شیخ کودک بود پدر را گفت : «مرادر سرایک خانه بناکن چنانک آن خانه خاصه ، من باشد و هیچ کس را در آن تصرف نباشد. «پدر ، او را خانه اي بناکرد در بالاي سراي ، که صومعه ، شیخ آن است ، چون خانه تمام شد و درگل گرفتند ، شیخ بفرمود تابر درودیوار و سقف آن بنو شتند که «الله -الله-الله» . پدرش گفت : «اي پسر! این چیست ؟ شیخ گفت : « هرکسي بر دیوار خانه خویش نام امیرخویش نویسد . » از اسرار التوحید

اعـلانات

به اطلاع سمیع الله فرزند ذکرالله باشنده مکرویان چهارم و نورخان فرزند میرجی باشنده گلخانه چهاردهی میرساند تا غرض فیصله دوسیه نستبتی خویش از تاریخ ۱۸-۵-۱۴۲۲ تا ده روز به دیوان مدنی وحقوقی عامه محکمه مرافعه ولایت کابل حاضر شوند در غیر آن فیصله غیابی صادر و آنگاه حق شکایت را نخواهند داشت .

***

عبدالرحمن مالك تیل فروشی پغمان مقدار شانزده هزار وهشتصد لیتر تیل دیزل را فی لیتر مبلغ بیست هزار وهشتصد افغانی مقدار یك هزار و دوصد لیتر تیل پطرول را فی لیتر مبلغ بیست و پنج هزار وهشت صد افغانی که به قیمت مجموعی مبلغ سه صدو هشتاد ملیون و چهار صد هزار افغانی مورد ضرورت وزارت مالیه را با وضع مالیه وصکوك رسانیده وزارت مالیه قرارداد مینماید .

مناقصه کننده گان درخواست های خویشرا بمدیریت تهیه وتدارکات وزارت مالیه بسپارند و خود شان از تاریخ ۱۸-۵-۱۴۲۲ تا ده روز مراجعه نمایند شرطنامه را ملاحظه کرده میتوانند تضمین اخذ میگردد

***

وزارت زراعت حاصلات سردرختی چهارمغز های تپه پغمان را با حاجی محمد انور فرزند محمد نادر به قیمت مجموعی مبلغ هشت ملیون وچهار صدوشصت هزار افغانی در سال ۱۴۲۲ قرارداد مینماید .

مزایده کننده گان درخواست های خویشرا به آمریت خدمات وزارت زراعت بسپارند وخود شان از تاریخ ۱۸-۵-۱۴۲۲ تا ده روز مراجعه نمایند مشخصات وشرطنامه را ملاحظه کرده میتوانند تضمین اخذ میگردد .

***

ریاست عمومی مواد نفتی وگاز مایع به یکنفر تحویلدار جنسی ضرورت دارد .

علاقمندان درخواست های خویشرا بریاست عمومی مواد نفتی واقع سالنگ وات بسپارند و خود شان از تاریخ ۱۸-۵-۱۴۲۲ تا ده روز مراجعه نمایند تضمین اخذ میگردد .

***

محمد امین فرزند محمد قاسم یك دربند حویلی ملکیت خویش واقع ناحیه چهارم را بالای تیك محمد فرزند لعل محمد بفروش میرساند .

اشخاص و موسساتیکه درمورد حویلی مذکور ادعا داشته باشند از نشر اعلان تا ده روز بریاست محکمه وثایق شهر کابل اطلاع دهند درغیر آن حق شکایت را نخواهند داشت .

***

شیرعزیز فرزند حاجی محمد هاشم وکالتاً یك دربند حویلی ملکیت محمد عمر فرزند عبدالحی واقع ناحیه هشتم را بالای رحمن الدین فرزند شهنواز بفروش میرساند .

اشخاص و موسساتیکه در مورد حویلی مذکور ادعا داشته باشند از نشر اعلان تاده روز بریاست محکمه وثایق شهر کابل اطلاع دهند در غیر آن حق شکایت را نخواهند داشت .

***

غلام دستگیر فرزند محمد عثمان یك دربند حویلی ملکیت خویش واقع ناحیه دهم را بالای حاجی نورالله فرزند محمد اعظم بفروش میرساند .

اشخاص وموسساتیکه در مورد حویلی مذکور ادعا داشته باشند از نشر اعلان تا ده روز بریاست محکمه وثایق شهر کابل اطلاع دهند در غیر آن حق شکایت را نخواهند داشت .

ژاغلی لیک

دشریعت ورځپاڼی محترمي اداری ته!

السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته!

ستاسود کارکوونکوصحت دلوی خدای «ج» څخه غواړم داچه دخلکو مشکلات او شکایتو نه په خپل ورځپاڼه کي خپروي دتاسوله اداری څخه مننه کوم پدی ورځوکښی دبایسکل چلوونکو شمیر په واټونوکی بی نهایت زیات شوی دي چی دهغوی بی پروائی او بی مسولیتی دیو لړپیښو سبب ګرځی . که چیری بایسکل چلوونکی ځانونه سواره بولی باید ټول ترافیکی مقرارت اوقوانین مراعات کړی لکه څنګه چه موټر چلوونکی مکلف دی اوکه احساس دمسوولیت نکړی باید دپیاده رو څخه استفاده وکړی څوورځی دمخه دیوي صحنی شاهدوم په یوه لویه جاده کی څلور قطاره بایسکلونه څنګ په څنګ رٔوان وُچي دوه برخي دجادي دوی احتوُکړی وه دوه بایسکل چلوونکی څنګ په څنګ ولګیده ناڅاپه دموټر مخی ته ولویده موټر چلوونکی دومره کوښښ وکړچه داصلی جادی څخه ووت په مقابل جاده کښی یی دبل موټر سره ټکروکړ سره له هغی هم بایسکل چلوونکی ژوبل شو پدی پیښه کی موټر چلوونکی ملامت شو سره له دي چي موټر چلوونکی جواز سیر او لاینس درلودل بایسکل چلوونکی هیڅ نه درلودل او دهیڅ قانون تابع نه وه دترافیکو د مقاماتو څخه هیله کوو چه په داسی حادثاتو کی یوجانبه قضاوت ونکړی ډریور باید په هرحالت کی ملامت نشی همدا یو طرفه قضاوتونه دي چه نن ورځ بایسکل چلوونکی دموټر سره څنګ په څنګ روان وی دهیڅ مسوولیت احساس نکوی او نه دترافیکو ترکنترول لاندی دی دملامتي په صورت کی که چیری په یوڅو پیښوکی دمالی اوجانی تاوان سره بایسکل چلوونکی مجرم ثابت شی دنورو دپاره به دعبرت درس شی او په آینده کی به دپیښو میزان کم شی اواحساس دمسوولیت به وکړی .

والسلام — د-ج از بی بی مهرو

عیسویت دین ته ...

ددغه مطبوعاتی کنفرانس په پیل کي د باختر اژانس د لوی ریاست د بهرنیو اطلاعاتو مرستیال محترم عبدالوکیل عمری د دغی موسسی د فعالیتونو د څرنګوالی او دعیسویت منسوخ دین ته د دغی موسسی لخوا د افغانی کورنیو د بلنی په اړوند څرګندونی وکړی او په پېښور کې د میشتو افغانی مهاجرینو په کمپونو کې د دغې موسسی د ۱۶ کلن فعالیت او دکابل په ښار کې د یوکلن کار په بهیر کې دهغی ورانکاری فعالیتونه څرګند او بیان کړل .

وروسته د امر بالمعروف او نهی عن المنکر وزارت محترم اداری معین د دغی موسسی د کار کوونکو لخوا د عیسویت دین ته د افغانی دیندارو کورنیو د بلنی دڅرنګوالی دغه منسوخ دین ته دا فغانی ماشومانو دجلب او جذب او درادیو د پروګرامونو د ویش د څرنګوالی په اړوند چې دعیسویت دین تبلیغوی څرګندونی وکړی او وی ویل : دغی موسسی له یوکال را پدیخوا دساختمانی چارو د تر سره کولو د کاریزونو د پاکولو د عمارتی ګادرونو د ویش او د [illegible] ماشومانو ته د بیلابیلو کسبونو د زده کړی تر پردی لاندی د عیسویت منسوخ دین دیندارو افغانی کورنیو ته څرګند او بیان کړیدی مسلمانان یی دغه منسوخ دین ته را بلل او دانجیل کتاب او نور دعوتی کتابونه یی خلکو ته بیانول.

دهغوی دغه عملونه چی زموږ ددین او مذهب پرضد ؤ د افغانانو د کرکی او نفرت وړ وګرځیدل ځکه د افغانستان مؤمن او مسلمان ملت پخوا دخپل دین او مذهب د ساتنی او دفاع په خاطر زیاتی قربانی ورکړیدی او په بیلابیلو وختونو کی یی د انګریزانو او روسانو په وړاندی دخپل دین ، عقیدی او مذهب دفاع کړیده چې زموږد تاریخ زرینی پاڼې زموږ دمسلمانو او دیندارو خلکو له دغو سرښندنو اوځان تیریدنو څخه ډکی دی. د دغی موسسی کار کوو نکو د افغانستان د مسلمانو خلکو د دین او مذهب درناوی نه کاوه او افغانی کورنی یی له بیلابیلو لارو د عیسویت منسوخ دین ته بللی چې د امر بالمعروف او نهی عن المنکر وزارت د موظفینو لخوا لاس په لاس ونیول شول .

محترم حقانی زیاته کړه په کابل کی ددغی موسسی له نیول شویو کارکوونکو څخه تحقیقات دوام لری چې د افغانستان د اسلامی امارت د فرمانونو او قوانینو او د محمدی غرا شریعت په چوکاټ کی د هغو په بشپړیدو سره به له دغو نیول شویو کارکوونکو سره چلند وشی .

د مطبوعاتی کنفرانس په پای کې په دری ژبه د ویډیوئی کیښتونو چې دمسیحیت د شروع قصه پکی تمثیل شویده په دری او انګلسی ژبو د انجیل د کتاب په دری ژبه د مسیحی کیسو کتاب چی ماشومانو ته اورول کیده په ګډون له دغی موسسی څخه ترلاسه شوی سندونه او نور مدارک ژورنالستانو ته وښودل شول د ترلاسه شویو سندونو په جمله کې دهغی رادیو دخپرونو د وختونو جدول چې په پښتو او دری ژبو یی عیسویت تبلیغاوه او هغه یی په ماشومانو باندی ویشی هم موجود دی په پای د امر بالمعروف اونهی عن المنکر وزارت محترم اداری معین د ژورنالستانو پوښتنو ته ځواب ووایه .

له پلورل شویو اجیرانونه ...

خبر راکړ زموږ ګران هیوادوال او په تیره بیا کابل ښاریان خبر دی چې یو شمیر پلورل شویو او اجیرو ګماګیانو د خپلو بهرنیو بادارانو په دستور د کابل په ښار کې د حالاتو د ګډوډولو او دخلکو تر منځ د ویری او ډار د فضا د برابرولو په مقصد د کابل ښار کارته پروان په ساحه کې د پل باغ عمومی ، د سپین زر هوټل ته په مخامخ سیمه ، بامـ [illegible] ـینا د بهرنیو چارو وزارت په وړاندی ، ده افغانانو او د دریم مکروریان د ساحی په ګډون د کابل ښار په بیلابیلو سیمو کي په بم ایښودنو لاس پوری کړ چې زموږ هیوادوالو ته یی دسر درانده زیانونه او زیات مالی تاوانونه یی اړولی دی .

جنایت کار بم ایښودونکی د استخباراتو د ویښو موظفینو د پر له پسی او نه ستړیدونکو هلو ځلو له امله له چاودیدونکو موادو سره یوځای ونیول شول . له هغوی څخه د مخابری دستګاه او جدولونه هم ترلاسه شویدی . مجرمینو د تحقیق په بهیر کي په خپلو ټولو جرمونو او جنایتونو اعتراف کړیدی .

د تورنو کسانو دسبی له دقیق او هر اړخیز غور او څیړنی وروسته له مدارکو او سندونو سره یی چې د دوی د جرمی عملونو د بشپړ ثبوت څرګندوی بلل کیدل عالیقدر امیرالمؤمنین ته وړاندی شول چې عالیقدر امیرالمؤمنین د خپل شرعی صلاحیت او واک له مخی د بم ایښودنو څلور تنه عاملین هر یو د کابل ولایت د شکر دری ولسوالی اوسیدونکی ګل افغان د شیر افغان زوی ، د کابل ولایت د شکردری ولسوالی اوسیدونکی په عبدل مشهور عیدی محمد د امیر محمد زوی .

د شکر دری اوسیدونکی محمد طاهر د محمد نواب زوی او دکاپیسا ولایت دنجراب ولسوالی اوسیدونکی عباد الله د حبیب الله زوی چې دبم ایښودنو اصلی عاملین دی د اعدام په سزا محکوم کړل چې دغه مجرمین نن د چهارشنبې په ورځ د کابل ښار د اریانا په چوک کې اعدامیږی .

دغه راز نهه تنه نور چې د دغو پورتنیو څلورو تنو جرمی شریکان بلل کیږی هر یو د پنجشیر اوسیدونکی عبدالبصیر د عبدالحمید زوی ، دشکردری اوسیدونکی نورالله د نورمحمد زوی ، امان الله د نواب زوی ، په وندی مشهور محمد عارف د غلام سخی زوی ، په فرید مشهور محمد اکبر د عبدالحمید زوی ، سید اکبیر د سید میر زوی ، په مبارز مشهور حمیدالله د رحمت الله زوی ، رحمت الله د امرالله زوی او دکاپیسا ولایت د نجراب ولسوالی اوسیدونکی په زلمی مشهور عبدالمالک د عبدالواحد زوی په عمری بند محکوم شویدی . چې خپل ټول عمر د کندهار ولایت په عمومی محبس کې تیروی.

دکابل ښار ۴۰۰ ...

خبریال داخل دکلیو پراختیا او داو بو رسولو ریاست ته ورغلی او داړوند یې برابر کړی دی په پیل کی مو د دغه ریاست له رئیس محترم ملا سیدشاه حیدری نه د دوی دکار او فعالیت په اړه و پوښتل ده داسی معلومات راکړل :

مورږدروان کال په تیروڅلورو میاشتوکی داحیاء التراث الاسلامی موسسی په مټ وکولای شوای چی دکابل په ۱۰، ۶، ۹، ۴، او ۱۱ ناحیوکی پنځوس څاګانی وکینواو لاسی پمپ هم پری ولګوو ترڅو دکابل ښاریان له پاکو اوبو برخمن او له نارغیبونه خلاص شی.

دغه راز سږکال په پلان کی لرو چی د یونسف په مرسته دلوګر په ولایت کی ۷۰ څاګانی وکینو او لاسی پمپ پری ولګوو له دی جملی نه تراوسه پوری پنځوس څاګانی فعالی او پمپ پری لګول شوی دی اوپاتی کارهم په بیړه روان دی،په همدی ډول دغزنی په ولایت کی موهم ۷۰ څاګانی او پمپ په پلان کی نیولی چی دهغو له جملی نه شل څاګانې او پمپ فعالی اوکار اخستلو ته چمتو شوی اود نورو کاردوام لری . دیادونی وړده چی دکابل ښار ددوغ آباد او قلعه فتو داوبو ذخیری چی په تیرو جګړو کی خرابی شوی وی بیافعالی او ۶۰۰۰ تنو ته داوبو په ورکولو وتوانیدی . په پای کی داهم باید ووایم چی دکابل ښار ۴۰۰ څاګانی کلوریشن او دآنتانی نارغیبومخنیوی‌وشو .

محمد رفیق «عزت»

خشونت ها در ...

حملات صهیونست ها با مداد دیروز یک بم را درمسیر یک زرهدار اسرائیل منفجر کردند درباره تلفات وخسارات ناشی از این حمله گزارش داده نشده است .

قرار یک گزارش دیگر اشغالگران اسرائیل بیست هزار فلسطینی را از منطقه بیرون کرده اند که خود آنرا منطقه اسرائیلی مینمایند در پاسخ به این اقدامات غیر انسانی صهیونست ها به چندین پایگاه اشغالگران وشهرک های یهود نشین حمله نموده و تلفات وخساراتی را به دشمن به بار آوردند.

۴۰ تنه هیوادوال په ...

خبر راکړد کولرا ناروغی په دی وروستیو وختونو کی د پکتیکا ولایت په مرکز او مربوطاتو کی دسیلاوونو دراوتلو او وچکالی او د روغتیا ساتنی دوسایلو دنشتوالی له امله خپره شوی او د بیرنیو مرستو دنه رسیدو په صورتکی اټکل کیږی چی دغه وږونکي ناروغی دپکتیکا ولایت نورو سیموته هم خپره شی .

دپکتیکا ولایت دمشرتابه هیات ددغی وژونکي ناروغی دمخنیوی په خاطر دنړیوالو مرستندویو موسسو پاملرنه را اړولی ده .

دافغانستان بانک ...

دغه شورا چې د ریاست الوزراء د محترم اقتصادی مرستیال په مشری او دپلان د وزیر محترم ملا محمد طاهر انوری د سوداګری د وزیر محترم مولانا عبدالرزاق ، د کانو او صنایعو د وزیر محترم ملا محمد عیسی اخند ، د مالیی وزارت د معین محترم مولوی نجیب حقانی د کرنی او مالداری وزارت د معین محترم مخدوم عبدالسلام سعادت ، د افغانستان بانک د لوی رئیس محترم ملا حاجی محمد احمدی د اسلامی امارت د اقتصادی کمیسیون د غړو او دچارو د اداری د لوی رئیس محترم مولوی سید محمد حقانی په ګډون جوړه شوی وه په اجندا کي په شاملو موضوعګانو په خبرو برسیره د مرکزی بانک د ۱۴۲۲ هجری قمری کال بودجه منظوره شوه .

هیئات له ښاروالي سره ..

دګډو پلانونو دطرحی او دهغو دعملی کولو په باب چی دکابل ښاروالی او دهیئات موسسی ترمنځ دمفاهمی پرنسیپ شویدی خبری اتری وشوی او محترم نعمانی په دی برخه کی ددغی موسسی دهمکاری دپراختیا غوښتنه وکړه .

جالب وخواندنی

یکسال عمرانګلیس ها صرف چیزهای ګم شده می شود

منابع خبر بین المللی ګزارش میدهد که یکسال از عمر انګلیس ها صرف جستجوی چیزهای می شود که آنرا ګم کرده اند نتایج یک تحقیق جالب حاکی از آن است که هر انګلیس بطور اوسط یکسال از عمر خود را صرف یافتن اشیای می کنند که موقتاً فراموش کرده اندکه آنها درکجا ګذاشته اند براساس این بررسی با وجود انواع فن آوری ها برای کمک به حافظه بازهم تنش فشار ناشی از شرایط زندګی روزمره باعث می شود تا مردم کلید موتر، بکس پول، اسناد ، دفترچه تیلفون راګم کنند . شاګرد

موزیم پشکها

یک تاجر انتیک فروش انګلیسی مالک موزیمی است که نهایت دیدنی است این موزیم درنزدیکی یکی از مکاتب لندن قرار دارد درین موزیم پشکهای مصنوعی ، تصویر و دانستنی ، درمورد قدامت بیش از یکصد هزار نوع از بن حـ[illegible] بدست قرار دارد که با تمام مشخصات وانواع پشکهای روی زمین می تواند انسان را آشنا سازد درواقع این اولین موزیم مربوط به پشک ها در اروپا ست که بسیاری از انواع آن واقعاً شګفت انګیز بوده وعجیب می نماید درمدخل این موزیم یکی از انواع پشکها ی مومیایی شده مصری جلبی توجه می کند که قدامتش به سه هزار سال قبل میرسد ګزارش ها درزمینه میرساند که پشک ها مجموعاً ۶۳ نوع [illegible] میزنند . شاګرد

په بي ځاي شويو ...

په کمپونو کې په میشتو کورنیو باندی وویشل شول .

دغه راز د همدی موسسی له خوا په دغو کمپونو کې لس ژوری څاګانې هم نوی کیندل شویدی چې دهغو په کیندلو سره د څښلو د اوبو له پلوه ددغه کمپ د مهاجرینو ستونزی لږی شوی دی .

تیم فوتبال اتحاد بازهم ...

هشت از تیم اتحاد اولین ګول را به نفع تیم خویش به ثمر رسانید که با بردن این مسابقه تیم اتحاد تاحال درصدر جدول مسابقات قرار دارد .

احمد جاوید

اطلاعیه ریاست ...

وکارت مخصوص نداشته باشد به ریاست تصدی بریښنا موسسه اطلاع داده شود ویا به تیلفون های ۲۳۴۱۲ ویا ۲۵۱۰۹ در تماس شده تاجلو استفاده افراد مغرض ګرفته شود .

خاتمي امروز حلف ...

رسید پارلمان آنکشور به کاندیدان قوه قضائیه برای احراز عضویت شورای نګهبان رای داد زمینه برای ادای حلف وفاداری برای محمد خاتمی رئیس جمهور ایران مهیا ګردید قرار است محمد خاتمی در دومین دور ریاست جمهوری اش امروز در پارلمان آنکشور درحالیکه عده از مامورین ملکی و نظامی ایران و برخی از اتباع خارجی درپارلمان آنکشور حضور خواهد یافت حلف وفاداری یاد کند.

محمد خاتمی قرار بود دو روز قبل حلف وفاداری یاد کند ولی این مشکلات که درمیان قوه قضائیه ومجلس آنکشور بروز کرده به دستور رهبرروحانی آنکشور به تعویق انداخته شد .

مردم ترکیه ...

وحشیانه وی در سرکوب مردم مظلوم فلسطین درکمپ های صبرا و شتیلانشانه ننګی درپیشانی بشریت خواندند این اتحادیه خواستار لغو سفر صدراعظم اسرائیل به انقره ګردیدند به قول شماری از طرفداران حقوق بشر طی درخواستی به وزارت عدلیه ترکیه خواستار ګرفتاری شارون هنګام ورود به انقره شده بودند اریل شارون صدراعظم اسرائیل قراراست امروز به ترکیه سفرکند .

محکمه اندونیزیا ...

متهم است.

فرزند سوهارتو از ماه نوامبر سال ګذشته بعداز آن سواستفاده رشوخواری متهم ګردید مخفی شده است یک مامور پولیس اندونیزیا ګفت دونفر که به اتهام قتل قاضی مذکور بازداشت شده اند اعتراف کرده که پسر سوهارتو در ماجرا مذکور دست داشت.

SHARIAT DAILY
Published by :
Islamic Emirate of Afghanistan
Chief Editor:
Alhaj Mulla Assadullah ,Hanifee,
Editor: Ghulam M. Farooq

توجه !

ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را به بی حرمتی بګذارید .